{«DateLetterGenerated»}

{«Guardian»}
{«MailAddress»}
{«MailCity», «MailState» «MailZip»}

ګرانه {«Guardian»}:

دا لیک تاسو ته خبر درکوي چې ستاسو ماشوم، {«ChildFirst» «ChildLast»} د ويني د سرب معاينه درلوده.

| | |
|---|---|
| د معاينې نېټه | **{**«DrawDate»} |
| د ويني د سرب کچه: | µg/dL **{**«BLLResult»} |

د متحده ایالاتو د ناروغیو کنټرول او مخنیوي مرکزونو په وینا، د وینې سرب معاینې نتیجه چې 3.5 µg/dL یا لوړه وي په دې معنی ده چې ستاسو ماشوم د سرب له خطر سره مخ دی.

**مهرباني وکړئ {«HDprogram» }{«HDname»} سره په __{«HDPhone»}__** __اړیکه ونیسئ هرڅومره ژر چې امکان ولري.__ موږ ځيني پوښتنې لرو چې ستاسو د ماشوم د سرب خطر سره مخ کېدلو سرچينې په پېژندلو کې به مرسته وکړي. دا پوښتنې به ما سره پدې کې هم مرسته وکړي چې تاسو ته لارښود وکړم چې څنګه ستاسو د ماشوم د ويني د سرب کچه راټيټه کړو.

سرب په زاړه رنګ او کثافاتو کې موندل کېدی شي. کله چې زاړه رنګونه ټوټې او بڅري شي، نو دا د سرب دوړې رامينځته کوي. دا د سرب دوړه ممکن په هغه شيانو باندې کيني چې ستاسو ماشومان يې خوله کې اچوي، لکه د هغوی د لوبو شيان. ستاسو ماشوم ممکن دا د سرب دوړه تيره کړي يا يې تنفس کړي. ډېری ماشومان چې د سرب کچه يې لوړه وي ناروغ نه ښکاري يا د ناروغۍ عمل نه کوي.

ځيني ماشومان چې د ويني د سرب لوړه کچه لري د زده کړې، چلند، تمرکز/توجه او د اورېدلو ستونزې لري. ځيني کارونه شتون لري چې تاسو يې کولای شئ ترڅو د خپل ماشوم د سرب کچه راټيټولو کې مرسته وکړئ:

- د خپل ماشوم لاسونه اکثر وخت ومينځئ، په ځانګړي توګه مخکې له دې چې دوی خوراک کوي.
- کړکی، ځاګاني او فرشونه ډېری وختونه مينځئ.
- له خلکو وغواړئ مخکې لدې چې ستاسو کور ته ننوځي خپل بوټان وباسي.
- خپل ماشوم ته هغه خواړه ورکړئ چې په زياته اندازه د ويني اوسپنه (يعني آيرن) او کلسيم ولري. د ښه خواړو انتخابونو ځيني مثالونه شيدې، پنير، پينټ بټر يا مېده شوي ممپلي، مميز، لوبيا او ماهی دي.

د Ohio's Early Intervention (EI) پروګرام سره اړيکه ونيسئ که تاسو د خپل ماشوم د ودې په اړه اندېښنې لرئ. هغه ماشومان **چې د درېو کلونو څخه کم عمر لري** څوک چې د ويني د سرب کچه لږترلږه 5µg/dL لري په اتوماتيک ډول د EI پروګرام لپاره وړ دي. EI د هغو کورنيو سره کار کوي چې د پيدايش څخه تر درې کلنۍ پورې داسې ماشومان لري څوک چې پرمختيايي ځنډ يا معلوليت لري ترڅو دوی په ژوند کې غوره ممکنه پيل ولري. د نوم ليکنې لپاره {1-800-755-4769} ته زنګ ووهئ يا {ohioearlyintervention.org} وګورئ.

حواله {«ChildIdentifier»}